
NHS
Test and Trace

# ACON Flow*flex*™ SARS-CoV-2 ته ستاسو ګام په ګام لارښود د انټيجن چټکه معاینه (د ځان معاینه)


**خبرداری** د نورو معاینو له بستو څخه اجزا یوځای او مه ګډوئ

**مخکې له دې چې تاسو پیل کړئ دا ټول لارښود په دقت سره ولولئ.**
دا معاینه کیدای شي د نورو معاینو سره توپیر ولري کوم چې تاسو مخکې کارولي.

## یوازې د پوزې معاینه




1. د پوزې دواړه سوري سویب کړئ
2. نمونه پروسس کړئ
3. انتظار وکړئ
4. نتیجه
5. راپور ورکړئ




دا لارښوونې د ACON Flow*flex*™ SARS-CoV-2 انټيجن چټکه معاینې (د ځان معاینې) پورې اړه لري، د محصول کوډ: L031-118Y5 یوازې.

دا لارښود دا تشریح کوي چې څنګه خپل ځان یا بل کس د COVID-19 لپاره معاینه کړئ، او پایلې یې د ملي روغتیا خدمات NHS ته راپور کړئ. د متبادلو ژبو نسخې د ویلش په شمول او د ویډیو ننداره په **gov.uk/covid19-self-test-help** کې شته دي.

# هغه څه چې تاسو يې کولو ته اړتيا لرئ

## ستاسو ګام په ګام لارښود

د ACON Flowflex™ SARS-CoV-2 انتيجن چټکه معاينه (د ځان معاينه) د COVID-19 د معلوملو لپاره يوه ګړندی معاينه ده چيرې چې کارونکي د دوی له پوزې څخه د سويب نمونه اخلي.
دا يوازې د ځان د معاينې او د ويټرو(چې د انسان د وينې څخه په شيشی تيوب کې) د تشخيص کارولو لپاره دی.
دا لارښووني ولولئ او په سم ترتيب سره مرحلې تعقيب کړئ.

## ولې تاسو بايد د ځان معاينه وکړئ

دا د COVID-19 د ځان د معاينې بسته د پوزې لپاره د سويب ټيست دی ترڅو معلوم کړي چې ايا تاسو ساري ياست. دا کولی شي تاسو ته ووايی چې تاسو ويروس لرئ، اګر که تاسو نبنې نښانې هم ونه لرئ. په هرصورت تاسو بايد ملي لارښووني تعقيب کړئ ترڅو وګورئ چې کوم ډول معاينه ستاسو لپاره سمه ده.

## د دې کتابچې دننه



| | |
|---|---|
| هغه څه چې تاسو يې کولو ته اړتيا لرئ | 2 |
| لارښود او ذخيره کول | 3 |
| د دې معاينې په اړه | 4 |
| خپل د معاينې ساحه چمتو کړئ | 5 |
| د خپل بستې مينځپانګې وګورئ | 6 |
| خپله معاينه تنظيم کړئ | 7 |
| د بل چا معاينه کول | 8 |
| خپل د سويب نمونه واخلئ | 9 |
| د سويب نمونه پروسس کړئ | 10 |
| خپله نتيجه ولولئ | 12 |
| خپله نتيجه راپور کړئ | 14 |

# لاربنود او زېرمه کول

| خبرداری | خپله معاینه په جلا توګه ذخیره کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو اجزا یو له بله سره نه دي ګډوډې کړې. له یوې معاینې مایه په بله ازموینه کې کار نه کوي. |
| --- | --- |

- که تاسو د پوزې میخکی لرئ، د سویب کولو څخه دمخه میخکی لرې کړئ.
- که تاسو د سویب کولو پرمهال د پوزې څخه مو وینه راغله، مهرباني وکړئ د سویب کولو مخه ونیسئ. سویب نشي کارول کیدی او تاسو به بیا پیلولو ته اړتیا ولرئ.
- محصول د طبیعي سپیني مایع چې له ونو راوځی ندی جوړ شوی. په هرصورت، احتمال شته دې چې نبني نښاني د ترانسپورت یا د پروسو د سمبالولو په جریان کې معرفي شي.
- په هغه سیمه کې خوراک او څښاک مه کوئ یا سګرټ مه څکوئ چیرې چې نمونې یا بستې سمبالیږي.
- که کومه برخه زیانمنه شوې وي، معاینه مه کاروئ.
- ټول کارول شوي د معاینې توکي باید په خوندي ډول د کور کثافاتو کې ځای په ځای شي.
- لاسونه د کارولو دمخه او وروسته په بشپړ ډول ومینځئ.
- د هغو نمونو کارولو څخه ډډه وکړئ چې وینه لري.
- د سویب کولو او د معاینې د پروسې لپاره مرسته ممکن د هغو کسانو لپاره اړین وي چې د لاس او لید مشکل لري.
- لږ تر لږه د 30 دقیقو لپاره د پوزې د سویب نمونې راټولولو دمخه د پوزې سپرې مه کاروئ.

## ذخیره کول او سمبالول

- د معاینې بسته د ماشومانو او ځارویو څخه لرې وساتئ.
- د معاینې بسته باید د حرارت په 2 - 30 سانتي ګراد درجې کې زیرمه شي. کنګل کوئ مه.
- په ټاپه شوي کڅوړه کې چاپ شوي د کارولو نیټې وروسته معاینه مه کاروئ.
- معاینه باید د حرارت په 15 - 30 سانتي ګراد درجې کې ترسره شي.

**د خپلې معاینې بسته په خوندي ډول تصفیه کړئ.**
کله چې ستاسو معاینه بشپړه شي، د معاینې د بستې ټول کارول شوي شیان د خپل کور په عمومي کثافاتو کې واچوئ. خپل لاسونه له مینځلو وروسته په بشپړ ډول ومینځئ.

# ددي معاينې په اړه

## دا معاينه د چا لپاره مناسبه ده



**لويان چې عمرونه**
**يې 18 او تر**
هغه پورته وي د اړتيا په صورت کې د مرستې سره د ځان معاينه او راپور ورکړئ.



**ځوانان 12 څخه تر**
**17 کلونو پورې**
د بالغ تر څارنې لاندې ږ ځان معاينه او راپور ورکړئ. ځون کولی شي معاينه ترسره کړي، که اړتيا وي.



**ماشومان**
بايد د يو ځوان لخوا معاينه شي.
دا معاينه مه ترسره کوئ که تاسو د ماشوم په ازموينه کې ډاډه نه ياست.

## که تاسو د COVID-19 نوې نښې ولیدئ

د خورا تازه مشورې لپاره **nhs.uk/coronavirus** ته مراجعه وکړئ.

**د اوسني وړاندیز شوي معاينې لپاره تنظيم کړئ:**

**gov.uk/get-coronavirus-test** ته مراجعه وکړئ يا د **119** په ډايل کولو سره د پيرودونکي تماس مرکز ته زنګ ووهئ. اړيکي هره ورځ د سهار له 7 بجو څخه تر 11 بجو پورې خلاص وي (د ځمکنی کرښو او ګرځنده تليفونونو څخه وړيا تليفون کول).

**که تاسو اندېښنه لرئ د مرستې ترلاسه کولو کې ځنډ مه کوئ. په خپل شعور باور وکړئ.**

**خبرداری**




**که تاسو د خپلو نښو په اړه اندېښمن ياست، يا که ستاسو نښې نور هم خرابيږي،** د عمومي ډاکټر سره اړیکه ونيسئ،

د **111** NHS آنلاين خدمت ته په **111.nhs.uk** مراجعه وکړئ يا **111** ته زنګ ووهئ ترڅو له يو چا سره مستقيم خبرې وکړئ.

د طبي بيړني حالت لپاره، سمدستي **999** ډايل کړئ.

دا د لاربښوونو کتابچه يوازې د SARS-CoV-2 ACON Flow*flex*™ انټيجن چټکه معاينه (د ځان معاينه)، L031-118Y5 ته راجع کوي

# خپل د معاینې ساحه چمتو کړئ

**تاسو به اړتیا ولرئ:** یو ټایمر لکه ساعت، ساعت یا ګرځنده وسیله، نسجونه، د سطحې پاکوونکي، لاسي صابون یا صابون او ګرمې اوبه.



**1** دا لاربښوونې په احتیاط سره ولولئ. که تاسو نورې مرستې ته اړتیا لرئ د سویب معاینې ویډیو آنلاین وګورئ:
**gov.uk/covid19-self-test-help**



**2** سمدلاسه د معاینې له پیلولو دمخه، د معاینې بستې د ځای په ځای کولو لپاره هموراه سطح پاکه او وچه کړئ.




**3** خپل لاسونه د 20 ثانیو لپاره په بشپړ ډول ومینځئ، د صابون او ګرمو اوبو یا لاسي صابون په کارولو سره.

که چیرې له یوې څخه ډیرې معاینې ترسره کوئ، سطح پاک کړئ او خپل لاسونه د هرې ازموینې ترمنځ بیا ومینځئ.


# د خپلې بستې مواد وګورئ

**خبرتیا**

د نورو معاینو له بستو څخه اجزا یوځای او مه ګډوئ

## ستاسو د معاینې په بکس کې تاسو باید ولرئ:

| 1x | 7x | 7x | 7x | 7x |
|---|---|---|---|---|
| یو بکس چې بفر ټیوب لرونکی سوری ولری | کثافت دانی | په ټاپه شوی لفافه کی یو ځل استعمالیدونکی سویب | په ټاپه شوي کڅوړه کې د معاينې کيسيټ | د استخراج بفر ټیوب |



**مشوره**




**د خپلې معاينې د بستې په اړه نظر ورکړئ یا د زیان راپور ورکړئ**

که ستاسو د معاینې د بستې کومه برخه خرابه شوې یا ورکه شوې وي، نو د معاینې بسته مه کاروئ. تاسو لاهم کولی شئ په کڅوړه کې نور د معاينې بستې وکاروئ.


که تاسو د دې معاینې د بستې په کارولو سره زیانمن شوي یا عکس العمل مو درلود، مهرباني وکړئ راپور يې کړئ. د خپل معاینې د بسې په اړه د نظر ورکولو لپاره، یا دا چې تاسو زیانمن شوي یاست دلته **gov.uk/covid-19-test-feedback** ولاړ شئ.

یا **119** ته زنګ ووهئ (د ګرځنده او ځمکنی کرښی څخه وړیا).
اړیکي هره ورځ د سهار له 7 بجو څخه تر 11 بجو خلاص وي.
**119** په 200 ژبو او همدارنګه د برتانوي اشارو ژبه کې ملاتړ وړاندی کوي.

دا د لاربښوونو کتابچه یوازې د ACON Flow*flex*™ SARS-CoV-2 انټيجن چټکه معاينه (د ځان معاینه)، L031-118Y5 ته راجع کوي


# خپله معاینه تنظیم کړئ

| | |
|---|---|
| **مهم** | په ټاپه شوی بسته کې چاپ شوي (⌛) د کارولو نیټه وګورئ.<br>د معاینې ماشین د هغې د کارولو نیټې وروسته مه کاروئ. |





**4** دمعاینې کیسټ د ټاپه شوي کڅوړې څخه واخلئ او په پاک هموار سطح کې یې ځای په ځای کړئ.

**خبرداری** کله چې خلاص شو، معاینه په 30 دقیقو کې پیل کړئ.





**5** د استخراج بفر ټیوب د خپل مخ څخه لرې ساتل، په احتیاط سره په ټیوب کې ټاپه شوی فلم خلاص کړئ ترڅو د هر ډول مایع تویدو مخه ونیسئ.

**خبرداری** که د استخراج بفر ټیوب کې مایع پوټکي یا سترګو ته ننوځي، سمدلاسه ومینځئ او د اړتیا په صورت کې طبي مرسته وغواړئ.



**6** د استخراج بفر ټیوب د استخراج بفر ټیوب نیونکې کې دننه کړئ ترڅو د بفر له تویدو څخه مخنیوی وشي.




**7** د ټاپه شوی لفافې دننه د یو ځل استعمالیدونکی سویب پیدا کړئ او نرم، توکر توته وپیژنئ.

د سویب د بستې پوښ یوازې هغه وخت خلاص کړئ کله چې تاسو کارولو ته چمتو یاست. په نرمۍ سره سویب وباسئ.




**8** د توکر ټوټې ته لاس مه وروړئ.

**خبرداری** هیڅکله د سویب نرم، توکر ټوټې ته لاس مه وروړئ یا تاسو اړتیا لرئ چې د تازه سویب سره بیا پیل وکړئ.

ادا د لاربښوونو کتابچه یوازې د SARS-CoV-2 ACON Flow*flex*™ انټیجن چټکه معاینه (د ځان معاینه)، L031-118Y5 ته راجع کوي



## که چیرې د 12 څخه کم عمر ماشومانو معاینه کوئ

د 12 کلونو څخه کم ماشومان باید د یو ځوان لخوا معاینه شي. لاربښوونې تعقیب کړئ چې څنګه یو ماشوم یا هغه کس چې مرستې ته اړتیا لري معاینه او چمتو شي. تاسو کولی شئ د ویډیو ننداره دلته وګورئ:

**gov.uk/covid19-self-test-help**




**که تاسو یو ماشوم معاینه کوئ**، دوی ته د معاینې بسته وښایاست او د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې تاسو یې کوئ. که امکان ولري، دوی د یو چا په غیږ کې کېنوئ یا څوک یې له لاس څخه ونیسي. له ماشوم څخه وغواړئ چې خپله پوزه په نسج کې سوړ کړي. نسج په کثافت دانۍ کې وغورځوئ بیا خپل لاسونه د **20 ثانیو** لپاره په بشپړ ډول ومینځئ، د صابون او ګرمو اوبو یا لاسي صابون په کارولو سره.

**9** د سویب د ټوکر ټوټه په نرمۍ سره د دوی د یوې پوزې سوري ته واچوئ تر هغه چې تاسو یو څه مقاومت احساس کړئ.



**10** د پوزې دننه په برش کولو سره 5 ځله سویب تاو راتاو کړئ

**11** سویب لیرې کړئ او همدغه سویب د پوزې په بل سوري کې دننه کړئ. 9 او 10 مرحله تکرار کړئ.



# خپل د سویب نمونه واخلئ

| نصیحت | د غوره فعالیت لپاره، د پوزې له سویب کولو وروسته ژر تر ژره د استخراج بفر ټیوب کې د یو ځل استعمالیدونکی سویب ځای په ځای کړئ. |
| --- | --- |




خپله پوزه په نسج کې سوړ کړئ. نسج په کثافت دانی کې واچوئ، بیا خپل لاسونه د **20 ثانیو** لپاره په صابون او ګرمو اوبو یا لاسي صابون ومینځئ.




**12** د سویب د ټوکر ټوله ټوټه د پوزې په یو سوري کې دننه کړئ. د نرم تاوولو په کارولو سره، د پوزې له څنډې څخه د 2.5 سانتي مترو څخه کم سویب ته فشار ورکړئ.

دا کیدای شي د نا آرامۍ احساس وکړي. که تاسو د قوي مقاومت یا درد احساس کوئ، سویب ډیر ژور مه دننه کوئ.





**13** د پوزې دننه په برش کولو سره 5 ځله سویب تاو راتاو کړئ.

**14** سویب لیرې کړئ او همدغه سویب د پوزې په بل سوري کې دننه کړئ. 12 او 13 مرحله تکرار کړئ.


# د سويب نمونه پروسس کړئ

| خبرتیا | معاینه مه پرېږدئ چې د 30 دقیقو څخه ډېره وده وکړي ځکه چې ادا به پایله باطله کړي. | 30 دقیقې |
|---|---|---|


**15** د استخراج بفر تیوب پورته کړئ او د سویب د توکر څنډه په تیوب کې ځای په ځای کړئ ترڅو ادا په مایع کې وي.
د استخراج بفر تیوب د څنډې په وړاندې توکر ته په زور سره فشار ورکړئ، پداسې حال کې چې ادا د 30 ثانیو لپاره د تیوب شاوخوا کې تاو راتاو کړئ.
د غوره فعالیت لپاره، د پوزې د سوریو سویب کولو وروسته ژر تر ژره سویب د استخراج په بفر تیوب کې ځای په ځای کړئ.





**16** له چې د تیوب اړخ ته په نرمۍ سره فشار ورکوئ سویب 5 ځله تاو راتاو کړئ.
ادا ددې لپاره چې ستاسو نمونه مایع ته بدله شي.





**17** د استخراج بفر تیوب د سویب په وړاندې ونیسئ کله چې تاسو یې لرې کوئ. داډ ترلاسه کړئ چې تاسو ټول مایع د سویب له نرمې څنډې څخه لرې کړئ سویب د.
کثافات په کڅوړه کې ځای په ځای کړئ.




**18** د څڅونکي سر په کلکه د استخراج بفر ټيوب سره وصل کړئ.
د ټيوب په ښکته برخه کې د ګرځولو يا څوځولو سره په بشپړ ډول مخلوط کړئ.




**19** ډاډ ترلاسه کړئ چې د معاينې بسته په پاک او هموار سطح کې دی. د معاينې په جريان کې کيسټ ته حرکت مه کوئ.




**20** د استخراج بفر ټيوب په نرمۍ سره وخوځوئ ترڅو د مايع 4 څاڅکي د نمونې ځآه (S) کې د معاينې کيسټ کې ځای په ځای کړې.
ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو مايع څڅوئ نه د هوا پوکړئ.
د بفر ټيوب استخراج د کثافاتو کڅوړه کې واچوئ.





**21** وخت وګورئ او ټايمر تنظيم کړئ. 15 دقيقې انتظار وکړئ مخکې لدې چې تاسو خپله نتيجه ولولئ.
نتيجه ولولئ کله چې ټايمر 15-30 دقيقو ته ورسيږي.
د 30 دقيقو وروسته يې مه لولئ.




# خپلې نتيجې ولولئ

## که تاسو مثبت معاينه شوئ




**دوه کرښې ښکاري**
يو رنګه کرښه بايد د کنترول کرښې په سيمه (**C**) کې وي،
او بله رنګه کرښه بايد د معايني کرښې سيمه (**T**) کې وي.




دوه کرښې، يو د **C** تر څنګ او بل د **T** تر څنګ، حتی کم رنګه کرښې، ښايي چې معاينه مثبته ده.

که تاسو مثبته نتيجه ترلاسه کړئ، تاسو کيدی شئ خورا ساري ناروغی ولرئ.

### بيا څه وکړي:

- په کور کې د پاتې کيدو نصيحت تعقيب کړئ او د نورو خلکو سره د اړيکې څخه ډډه وکړئ **nhs.uk/stay-at-home**
- خپله نتيجه راپور کړئ (14 مخ وګورئ او لارښووني تعقيب کړئ). د نتيجو راپور ورکولو خدمت به تاسو ته په راتلونکي کې د څه کولو په اړه خورا تازه لارښوونه درکړي.
- که تاسو کولی شئ، هغه خلکو ته د خپلې مثبتي نتيجې په اړه وواياست چې تاسو ورسره نږدې اړيکي لرئ.


### ستاسو په کورنۍ کې نور کسان څه بايد وکړي:

- هغه خلک چې تاسو ورسره اوسيږئ بايد ادا نصيحتونه تعقيب کړي چې څنګه د COVID-19 د نيولو او خپريدو څخه مخنيوی وکړئ: **nhs.uk/stay-at-home**

دا د لارښوونو کتابچه يوازې د SARS-CoV-2 ACON Flow*flex*™ انټيجن چټکه معاينه (د ځان معاينه)، L031-118Y5 ته راجع کوي

خپل د معاینې نتیجه راپور کړئ

## که تاسو منفي معاینه شوئ





یو رنګه کرښه د کنټرول کرښې په سیمه (**C**) کې ښکاري. د معاینې کرښې سیمه (**T**) کې هیڅ کرښه نه ښکاري. که تاسو منفي نتیجه ترلاسه کړئ، دا داسې ده چې تاسو د معاینې په وخت کې ساري نه یاست.

که څه هم د منفي معاینې نتیجه ددی تضمین نه کوي چې تاسو COVID-19 نلرئ. تاسو او ستاسو کورنۍ باید نصیحتونه تعقیب کړئ چې څنګه د COVID-19 د نیولو او خپریدو څخه مخنیوی وکړئ:
**nhs.uk/how-to-avoid-covid**


## بې اعتباره نتیجه

**د منفي او بې اعتباره نتیجو راپور ورکول د NHS سره مرسته کوي ترڅو پوه شي چې څومره معاینې کارول شوي، او که په معاینو کې کومه ستونزه شتون ولري.**




د کنټرول کرښ (**C**) په راښکاره کیدو کې پاتې راځي، یا یوازې یو سور بار (**T**) را څرګندیږي، پدې معنی چې معاینه بې اعتباره ده.

**که تاسو بې عتباره نتیجه ترلاسه کړئ**، نو دا پدې مانا ده چې دا ممکنه نده چې وواياست تاسو ویروس درلود کله چې معاینه ترسره شوې وه. د دې لپاره چې وګورئ چې تاسو کورونا ویروس لرئ، ژر تر ژره بله معاینه وکړئ.




د لومړي معاینې څخه **هیڅ شی مه کاروئ**، او د 1 مرحلې څخه د معاینې طرزالعمل پیل کړئ.

**که ستونزه دوام ولري**، سمدلاسه د معیانې د بستو کارول بند کړئ. که تاسو بله معاینه ونلرئ، تاسو کولی شئ یو بل مختلف ډول معاینه وکړئ په:


- **gov.uk/get-coronavirus-test** ته مراجعه کول
- د پیرودونکي تماس مرکز ته په **119** زنګ وهل.
  اړیکې هره ورځ د سهار له 7 بجو څخه تر 11 بجو خلاص وي.

دا د لارښوونو کتابچه یوازې د ACON Flow*flex*™ SARS-CoV-2 انټیجن چټکه معاینه (د ځان معاینه)، L031-118Y5 ته راجع کوي

# خپله نتیجه راپور کړئ

**تاسو باید خپلې مثبتې،**

**منفي یا بې اعتباره نتیجې راپور کړئ**




د معاینې ټولې نتیجې ثبت کول ساینس پوهانو سره ادا مرسته کوي چې د نوي ویروس خپریدنه په ګوته کړي او مشوره ورکړي چې څنګه خواځ وویلی.

که خلک یوازې مثبتې نتیجې راپور کړي، د قضیې کچه د دوی په پرتله لوړه‌ښکاري.

نو اګر که ستاسو نتیجې **منفي** یا **بې اعتباره** وي، تاسو باید داډ ترلاسه کړئ چې د NHS معلومات دقیق پاتې شي.

تاسو د خپلو نتیجو راپور ورکولو لپاره د **QR کوډ** یا **پیژندنې شمیرې** ته اړتیا لرئ.

# خپل د معاینې نتیجه راپور کړئ

## څنګه خپله نتیجه راپور کړئ




### آنلاین راپور ورکړئ (تر ټولو چټک)

که تاسو په انګلستان، ویلز یا شمالي ایرلینډ کې اوسیږئ نو له دې
څخه لیدنه وکړئ: **gov.uk/report-covid19-result**

که تاسو په **سکاټلینډ** کې اوسیږئ نو له دې څخه لیدنه وکړئ:
**covidtest.scot**




### د تلیفون له لارې راپور ورکړئ

**119** ته زنګ ووهئ
اړیکې هره ورځ د سهار له 7 بجو څخه تر 11 بجو
پورې خلاص وي (د ګرځنده تلیفونونو او ځمکنیو کرښو
څخه وړیا)

## کارول شوې نښې

| | |
|---|---|
| تولیدونکی | (factory symbol) |
| د ویټرو(چې د *انسان د وینې څخه په شیشې تیوب کې*) د تشخیص کارولو آله | IVD |
| د کارولو لپاره د لارښوونو مشوره وکړئ | i |
| په اروپایي ټولنه کې مجوز استازی | EC REP |
| که کڅوړه خرابه وي مه یې کاروئ | |
| د ایتیلین آکسایډ په کارولو سره تعقیم شوی | STERILE EO |
| د <*n*> معاینو لپاره کافي لري | Σ |
| استعمالیدو شی تر نیټې | |
| زیات شمیر | LOT |
| د تولید نیټه | |
| دوباره مه تعقیم کوئ | STERILIZE 2 |
| د بیا رغونې وړ | |
| د حرارت درجې حد | 2°C – 30°C |
| دوباره یې مه استعمالوئ | |
| د کتلاګ شمیره | REF |
| وچ یې وساتئ | |
| د لمر له وړانګو یې لرې وساتئ | |
| خبرداری، مهرباني وکړئ لارښوونو ته مراجعه وکړئ | ! |

دا د لارښوونو کتابچه یوازې د SARS-CoV-2 ACON Flow*flex*™ انټیجن چټکه معاینه (د ځان معاینه)، L031-118Y5 ته راجع کوي

# تاسو یوازې خپله معاینه به هله بشپړه کړې، کله چې تاسو خپله نتیجه راپور کړې



**د خپلې معاینې نتیجه راپور کړئ**

د دې آلې عرضه یوازې د NHS معاینې او تعقیب برنامې لاندې د انګلستان د روغتیا او امنیت اداره (UKHSA) ګمارنې برخې په توګه اجازه لري.

| **Flowflex™ SARS-CoV-2**<br>**انتیجن چټکه معاینه (د ځان معاینه)** | **یو ځل استعمالیدونکې سوییونه** |
|---|---|
| ***ACON* Biotech (Hangzhou) Co., Ltd.**<br>No.210 Zhenzhong Road, West Lake District, Hangzhou, P.R. China (چین), 310030<br>ویب پاڼه: www.aconbio.com<br>بریښنالیک: COVID19selftest@aconlab.com.cn<br>CE 0123<br>EC REP MedNet EC-REP GmbH<br>Borkstrasse 10<br>48163 Muenster, Germany (جرمني) | **Jiangsu Changfeng Medical Industry Co., Ltd.**<br>Touqiao Town, Guangling District, Yangzhou 225109, Jiangsu, P.R. China (چین)<br>CE 0197<br>EC REP Llins Service & Consulting GmbH<br>Obere Seegasse 34/2, 69124<br>Heidelberg, Germany (جرمني)<br>یا<br>**Jiangsu HanHeng Medical Technology Co., Ltd.**<br>16-B4, #1 North Qingyang Road, Tianning District, Changzhou, 213017 Jiangsu P.R. China (چین)<br>CE 0197<br>EC REP Luxus Lebenswelt GmbH<br>Kochstr.1, 47877, Willich, Germany (جرمني) |

نسخه 1151414701 د مؤثره کیدو نیټه 2022-03-22
پدې سند کې ټول معلومات د .ACON Biotech (Hangzhou) Co., Ltd
Flowflex™ SARS-CoV-2 انتیجین ریپید ټسټ (د ځان معاینه) د تولید کوډ L031-118Y5 له مخې سم دي.

دا د لارښوونو کتابچه یوازې د ACON Flowflex™ SARS-CoV-2 انتیجن چټکه معاینه (د ځان معاینه)، **L031-118Y5** ته راجع کوي